# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د وږي دویمه | د ۲۰۲۰ د اگسټ ۲۳مه | ۵۸۴مه گڼه


# کمکاره مسوولین او د خلکو اندېښنې؛

## غلاوو او چاودنو پلازمېنه کابل د وېرې او وحشت په ښار بدل کړی




د سولې په پروسه کې درې اصلي خنډونه
۲ مخ

د سعودي عربستان- پاکستان اړیکو ترینگلتیا
۲ مخ

پر روغتیا د سگرېټو اغېز
۳ مخ


## مبلر: د جگړې د پای ته رسېدو لپاره باید له رامنځته شوي فرصت څخه گټه واخیستل شي

په افغانستان کې د غوڅ ملاتړ ماموریت قوماندان جنرال سکاټ مېلر وايي، وسله والو طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي.
نوموړي د افغانستان د دفاع وزارت له مرستیال شاه محمود میاخېل سره شمال ته د سفر پرمهال ویلي چې د جگړې د پای ته رسېدو لپاره باید له رامنځته شوي سیاسي پروسې څخه گټه واخیستل شي.
په افغانستان کې مېشتو بهرنیو ځواکونو ویلي چې شمالي ولایتونو ته د مېلر سفر د دغو ولایتونو د امنیت ارزولو او له افغان ځواکونو څخه د ناټو د ملاتړ تازه کولو په موخه شوی دی.
غوڅ ملاتړ ماموریت د نوموړي له خولې ویلي: «د افغانستان خلک سوله غواړي، دا یوه اړتیا ده چې طالبان تاوتریخوالی کم کړي، ما له افغان امنیتي ځواکونو سره خبرې کړې دي، ټول تاوتریخوالی له تاوتریخوالي څخه پیدا کیږي. افغان ځواکونه به له خلکو څخه دفاع ته دوام ورکړي او موږ به په ورته وخت کې یوه سوله‌ییز جوړ جاړې ته د رسېدو لار تعقیب کړو.»
نوموړي زیاته کړې چې په افغانستان کې مېشت د ۳۸ هېوادونو ائتلاف به د افغان ځواکونو ملاتړ او روزنې ته دوام ورکړي، تر څو په راتلونکي کې د مخالفینو د بریدونو د دفعه کولو توان ولري.
په افغانستان کې د غوڅ ملاتړ ماموریت قوماندان داسې مهال یادې څرگندونې کوي چې په دې وروستیو کې یوځل په هېواد کې جگړو او نښتو زور اخیستی دی.

## سیمه‌ییز هېوادونه او نړیواله ټولنه دې د افغان سولې په پروسه کې رښتینې همکاري وکړي




۵ مخ




پوهنتون
۴ مخ


## الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

کتابتون، کمپیوټر لب، حقوقي کلینیک او د ظرفیت لوړولو ورکشاپونه د الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو مسسې له امکاناتو څخه دي.



## کرنې ریاست: روان کال د کندهار د انگورو حاصلات نږدې ۳۰۰ زره متریک ټنو ته رسیږي




د کندهار د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې سږکال د تېرکال په پرتله د دغه ولایت د انگورو په حاصلاتو کې زیاتوالی راغلی دی.
د دغه ولایت د کرنې رییس سید حفیظ الله سیدي وايي، چې د کندهار د ۱۷ ولسوالیو پر ۲۰ زره او ۵۰۰ هکتاړ ځمکه کې د انگورو بڼونه جوړ شوي، چې له دغو بڼونو څخه به سږکال څه باندې ۲۹۰ زره ټنه انگور راټول او بازار ته به وړاندې شي. دا په داسې حال کې ده، چې تېر کال له یادو بڼونو څخه ۲۷۳ زره او ۶۰ مېټریک ټنه انگور په لاس راغلي وو. سیدي وايي، چې د دغه ولایت د انگورو د سږنیو حاصلاتو د زیاتوالي اصلي لاملونه د بزگرانو عامه پوهاوی، روزنیزې برنامې او د بزگرانو او ځمکوالو سره د کرنې ریاست مرستې او همکارۍ دي.
سپین بولدک، دامان، معروف، شاولیکوټ، ژېړۍ، پنجوایي، ډنډ او ارغستان د کندهار هغه ولسوالۍ دي، چې د انگورو ډېر شمېر بڼونه پکې جوړ شوي دي.

## سپیدار: لیست اعضای رهبری و معاونان شورای مصالحه ملی تکمیل شده است و به زودی اعلام خواهد شد



شورای عالی مصالحه ملی افغانستان می گوید که لیست اعضای رهبری و معاونان این شورا تکمیل شده است و به زودی اعلام خواهد شد.
فریدون خوځون سخنگوی این شورا دیروز به رادیو آزادی گفت که اعضای این شورا به زودی اعلام شوند: «بحث‌ها در مورد معاونان و اعضای شورای رهبری به پایان رسیده است. فهرست آماده شده. در میان معاونان یک زن هم است».
خوځون می‌گوید براساس توافق سیاسی، شورای عالی مصالحه ملی گفت‌وگوهای صلح با طالبان را به پیش می‌برد.
اما این که در این تشکیلات شامل چه کسانی می‌شود، آقای خوځون توضیح بیشتر نداد، اما گفت که در تشکیلات این شورا نمایندگان اقشار مختلف جامعه حضور دارند.
در همین حال، منبع موثقی که نخواست به دلیل حساسیت موضوع نامش ذکر شود، به رادیوآزادی گفته است که بر علاوه بابر فرهمند و اسدالله سعادتی، حاجی عزیزالله دین‌محمد، عبدالسلام رحیمی، مولوی عطالله الرحمان سلیم و یک زن به عنوان معاونان این شورا تعیین شده‌اند.
منبع افزوده است که در هیئت رهبری شورای عالی مصالحه حامد کرزی رئیس جمهور پیشین، رهبران جهادی و چهره‌های مطرح سیاسی عضویت دارند که تعداد شان به ۴۴ تن و تعداد اعضای مجمع عمومی شورا به ۱۰۰ تن می‌رسد.


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### د سولې په پروسه کې درې اصلي خنډونه

په افغانستان کې د سولې پروسه او د بین الافغاني خبرو پیل له یو نامعلوم برخلیک سره مخ دي. د اصلي خنډ په اړه چارواکي څه نه وایي، خو په ظاهره دا حالت د بندیانو د تبادلې پر سر له اختلاف څخه زیږېدلی دی. حکومت باید د طالبانو پاتې ۳۲۰ بندیان هم خوشې کړې وی چې بین الافغاني خبرو ته یې لاره هواري کړې وی، خو حکومت وایي چې له یوه اړخه فرانسه او استرالیا د ځینو بندیانو پر خوشې کولو اعتراض لري او له بله اړخه طالبان باید ۲۲ کومانډو ځواکونه خوشې کړي. ارګ دا هم وایي چې که دا بندیان خوشې شي، نو برېتانیا او امریکا به د نشه یي توکو سیلاب لاندې کړي.

د دغه حالت پایله سر له اوسه محسوسه ده. د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د جګړو او نښتو خبرونه ورکول کېږي. په دې جګړو او نښتو کې هره ورځ لسګونه امنیتي ځواکونه او طالبان وژل کېږي. د دې تر څنګ ملکي وګړو ته هم مرګ ژوبله اوړي چې یوازې په تېرو دریو ورځو کې شاوخوا دېرش ښځې او ماشومان وژل شوي او ټپیان شوي دي. په کابل کې هم د چاودنو یوه مرموزه څپه پیل شوې ده. هره ورځ د څو چسپکي ماینونو او نورو امنیتي پېښو رپوټونه ورکول کېږي.

اوس اساسي پوښتنه دا ده چې ولې هر څه ځنډېږي او ولې بین الافغاني خبرې نه پیلیږي؟

موږ دلته درې اساسي خنډونه یادوو:

لومړی: تر ګردو اساسي خنډ دا دی چې امریکا لا هم دوه مخې لوبه کوي. له یوه اړخه یې طالبانو ته د پنځه زره بندیانو د خوشې کولو ډاډ ورکړی او لاسلیک یې ورسره کړی او له بله اړخه یې تر پایه پورې په دې چاره کې پر حکومت واقعي فشار را نه وست. امریکا وغوښتل چې له همدې بندیانو د بین الافغاني خبرو د ځنډ لپاره استفاده وکړي، چې پکې بریالۍ هم شوه. که امریکا بندیان خوشې کولی شوای، خو ویې نه کړل، نو خبره ښکاره ده او که یې دا کار نه شو کولی، خو بیا یې هم له طالبانو سره په دې اړه لاسلیک وکړ، بیا هم پړه د امریکا پر غاړه ده. له همدې امله اصلي لوبه امریکایان کوي او د ستونزې اصلي جرړه دوی جوړه کړې ده.

دویم: حکومتي چارواکي یو مخ د سولې مخالف دي. له همدې امله هڅه کوي چې خنډ او ستونزې جوړې کړي. واقعیت دا دی چې د ارګ واکمنانو ته تر افغان، افغانستان او سولې خپل واک مهم دی. له همدې امله د خپل واک د تدوام هڅه کوي او له هر لوري هڅه کوي چې د سولې د خبرو د پیل مخه ونیسي. دوی ډېر مسایل د پلمې په توګه کاروي. له دې امله چې د امریکا لخوا له واقعي فشار سره نه دي مخ شوي، نو ځکه یې دا لوبه تر اوسه بریالۍ هم ښکاري.

درېیم: طالبان لا هم پر امریکا بې ځایه باور کوي، فکر کوي چې ستونزه امریکا نه، بلکې حکومت جوړه کړې ده. له بله اړخه طالبان ډېر وچ او سخت دریځ لري، چې پکې هېڅ ډول بدلون نه راځي. دوی وایي چې که یې یو بندي هم پاتې وي، خبرې نه کوي، نو دوی ته تر سولې د دوی یو بندي مهم دی او همدا چاره د دې سبب شوې چې نورو اړخونو د خبرو د ځنډ پلمې هم په لاس ورکړې.

تځو چې یو پراخ ولسي فشار را منځ ته نه شي او ښکېل اړخونه مجبور نه کړي، متاسفانه نه یوازې د سولې په برخه کې به کوم محسوس پرمختګ ونه شي، بلکې جګړه به لا زیاته شي.

# افغانستان او د نړیوالو مشترکو سینديزو حوزو اړوند د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون؛ فرصتونه او اندېښنې

تحقیق: برکت الله آریوبي

### وروستۍ برخه:
### د الحاق په اړه اندېښنې

ترکیه او چین د بره پرتو هېوادونو په عنوان هغه ملکونه دي چې تر اوسه یې د کنوانسیون له تصویب څخه ډډه کړې ده. د دوی له نظره، دا کنوانسیون د ښکته پرتو هېوادونو پلوي کړې. د کنوانسیون تصویب په جریان کې په ملګرو ملتونو کې د ترکیې استازې ویلي وو: «د کنوانسیون مسوده د بره پرتو هېوادونو په قلمرو کې د حاکمیت په اړه څه نه وایي او کنوانسیون باید د معقولانه او منصفانه ګټې اخیستنې اصل تفوق پر نه ضرر رسونې اصل ثابت کړي.»

د چین دولت هم د کنوانسیون مسودې ته منفي رایه ورکړه. د چین استازي ګایو فنګ وویل چې کنوانسیون واضح نواقص لري. لومړی دا چې د هېوادونو عمومي توافق په دې اړه نشته او ځینې دولتونو په دې اړه عمده شرطونه درلودل. دویم دا چې د کنوانسیون متن د یو هېواد په قلمرو کې د هغه هېواد ارضي حاکمیت نه تثبیتېږي او په نړیوالو حقوقو کې د ښکته او بره پرتو هېوادونو حقونو او دندو په اړه تعادل نه دی مراعات شوی. له بل اړخه چین او ترکیه په سنتي توګه فکر کوي چې د «پام وړ ضرر نه رسول» په حقیقت کې د بره پرتو هېوادونو په ضرر دي، ځکه چې په تاریخي لحاظ ښکته پراته هېوادونه د اوبو له منابعو څخه د ګټنې په ښه وضعیت کې قرار لري. نو ځکه ښکته پراته هېوادونه به د تاریخي حقابې مدعی وي چې دا په خپل ځای کې د بره پرتو هېوادونو په زیان دي.

په افغانستان کې هم ورته حدسیات شته چې ګواکې چین او ترکیه چې دا کنوانسیون نه تصویبوي او ټول پورته پراته هېوادونه یې په زیان ګڼي، افغانستان خو یې په باید په طریق اولی سره تصویب نه کړي او په تصویب کې یې ګټې نه دي نغښتې.

دې اعتراض ته په ځواب کې ویلای شو، فرانسې د بره پروت هېواد په حیث دا کنوانسیون لاسلیک کړی؛ که چیرې د ټولو په ضرر وای، نو فرانسې به نه ورپورې الحاق کېده. له بل لوري ډېری ښکته پراته هېوادونه لکه پاکستان او مصر په کنوانسیون پورې نه دي ملحق شوي، حال دا چې د پورته ادعا له مخې، دوی باید ضرر منلی وای، ځکه کنوانسیون د دې هېوادونو پلوي کوي.

بره پراته هېوادونه معمولاً په غرنیو سیمو کې واقع دي او له مډرن ټکنالوژۍ او ظرفیت لوړونې څخه برخمن نه دي او په تیر کې یې هم د ډېرو دلایلو په وجه د اوبو منابعو له ګټې اخیستنې څخه محروم وو. دا هېوادونه لکه افغانستان د تیر په پرتله نسبتاً یو څه ښه وضعیت کې قرار لري، د بند جوړونې امکانات او نسبي تخنیکي ظرفیت شته چې پر مټ یې کولای شي د پوله تیریدونکو اوبو له منابعو څخه ګټه واخلي. نو که چیرې افغانستان دې دا ډول هېواد په حیث په بره کې د اوبو له منابعو څخه ګټه اخلي، طبیعي ده چې په ښکته کې به اغیزې لري؛ په داسې حال کې چې ښکته پراته هېوادونه په ۷مې مادې استناد کوي او ادعا به کوي چې د دوی حقابه متضرره شوې. نو ځکه د دې کنوانسیون تصویب په خپله ګټه نه بولي.

هېوادونه معمولاً په هغه وخت کې ځان د نورو مسوولیتونو پر وړاندې متعهد کوي او پر ځان نوي وظایف نړیوالو کنوانسیونونو ته د الحاق له لارې مني، چې دا چاره د دوی لپاره ښکاره ګټې د بېلګې په توګه د ملي منافعو او یا دفاع په شان ګټې د دوی لپاره ولري. هېوادونه هڅه کوي چې د ډېرو نړیوالو کنوانسیونونو په تصویب سره ځان ته سرخوږی جوړ نه کړي. دا چې افغانستان د بېلابېلو دلایلو له مخې نه دی توانیدلی چې د خپلو اوبو له منابعو څخه په ښه توګه ګټه پورته کړي، نو ځکه اړینه ده چې دا هېواد د اوبو له منابعو څخه د فقر کمښت او اقتصادي پراختیا هماغسې لکه چې په ملګرو ملتونو پراختیایي موخوکې SDG ورته اشاره شوې ده، ګټه واخلي. د همدې حدس له مخې، که چیرې افغانستان د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون غړیتوب اخلي، دا به د دې هېواد لپاره چارې آسانه نه کړي او برعکس لا به پیچلې او سختې شي.

د افغانستان ګاونډ هېوادونو هم له کله راهیسې چې له افغانستان سره د ګډو سیندیزو اوبو له منابعو څخه ګټه پورته کوله، هیڅکله یې د افغانستان له لوري سره مشوره نه ده کړې او نه یې هم د بېلابېلو پروژو په اړه د دې هېواد توافق اخیستی. یا په بل عبارت، د افغانستان اوبیزو ګاونډیو تر اوسه د قاعدې مطابق لوبه نه ده کړې، نو ځکه افغانستان ته هم په نږدې راتلونکي کې نه دي پکار چې په لوبه کې قاعده ومني او خپل لاسونه او پښې په خپله وتړي. د ډېرو افغان کارپوهانو تر منځ دا باور دی چې په نږدې راتلونکې کې د کنوانسیون عضویت اخیستل هسې بې ځایه کار دی.

ځینې نور بیا په دې باور دي چې مخکې له دې چې افغانستان د کنوانسیون غړیتوب اخلي، اړینه ده چې دا هېواد خپلې پولې تیریدونکې سیندیزې حوزې په هر اړخیز ډول مطالعه کړي؛ ځکه چې هره حوزه ځانګړې مشخصات لري او وروسته له مطالعې باید دا وارزول شي چې د کنوانسیون تصویب به په هره یوه څه اغیزې ولري، همدې پایلو ته په کتو باید د الحاق او یا نه الحاق په اړه بحث راپورته شي.

پر هلمند سیندیزې حوزې د الحاق اغیزې

د خپلو ټولو اوبیزو ګاونډیو له جملې افغانستان یوازې له ایران سره د هلمند اوبو وېش په هکله حقوقي تړون لري، چې په ۱۹۷۳ کال کې د یوې پیړۍ له مذاکراتو څخه وروسته د دوو هېوادونو له لوري لاسلیک شو. د دې تړون له مخې، افغانستان به ایراني لوري ته په عادي ورښتي کلونو کې ۲۶ مترمکعب اوبه في ثانیه ورکوي. دا تړون تر اوسه هم نافذ دی او د اجرا په حالت کې قرار لري. دا چې افغانستان د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون غړیتوب ته زړه نه ښه کوي، یو دلیل یې دا دی چې ګواکې د دې هېواد الحاق به د هلمند اوبو پر تړون کومه ناوړه اغیزه وښیندي؛ خو حقیقت دا دی چې دا وېره او ډار بې اساسه دی، ځکه چې کنوانسیون ډېر په صراحت وایي چې دا کنوانسیون به په پخوانیو موجوده سیمه ییز ترتیباتو هیڅ اغېز ونه لري.(۳ ماده)

کنوانسیون هغه څه چې په دې اړه یې اضافه کوي، دا دي چې له هېوادونو غواړي څو خپل توافقات له کنوانسیون سره همغږي کړي. له همدې امله که چیرې افغانستان دا کنوانسیون تصویبوي، د هلمند اوبو تړون باندې یې په حقوقي لحاظ هیڅ اغېز نشته او د نورو سیندیزو حوزو په اړه هم ویلی شو، چې افغانستان به لومړنی هېواد وي چې په سیمه کې د اوبو منابعو مدیریت په موخه د حقوقي نظم سرلاري وي، سره له دې چې د نورو حوزو په اړه ځینې اندېښنې هم شته چې مخکې مو ورته اشاره کړې وه.

**پایله**

افغانستان له خپلو پنځو سیندیزو حوزو څخه په څلورو کې له ګاونډیو سره د اوبو سرچینې په ګډه کاروي، دې حقیقت ته په پام سره چې هیڅ سیمه ییزه یا دوه اړخیزه حقوقي اډانه نشته، چې وکولی شي د اوبو د سرچینو تخصیص (معقول او مساوي) د افغانستان او نورو ذینفع هېوادونو او د حقابې تنظیم آسانه کړي. د اوبو په اړه د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون د هېواد لپاره تر ټولو ښه فرصت او مجال کیدی شي چې دا تصویب کړي او په سیمه کې د پوله تیریدونکو اوبو د چارو لپاره د یو پراخ حقوقي رژیم رامنځته کولو لپاره لومړی ګام پورته کړي.

د ګډو سیندیزو حوزو په برخه کې د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون د تر ټولو معتبر نړیوال حقوقي نهاد یانې د نړیوال حقوقي کمېسیون لخوا له یو کال څخه د ډېرو هڅو پایله ده. په دې کنوانسیون کې ځای پرځای شوي تر ټولو مهم اصول، لکه د (منصفانه کارونې) اصل (د پام وړ ضرر نه رسول)او (د مخه خبرتیا)، د نړیوالو دودیزو نورمونو تدوین دي چې وار له مخه په دولتونو الزام آور دي. د کنوانسیون تصویب نه یوازې پر افغانستان اضافي قانوني مکلفیت نه دی ایښی، بلکې د خپلو پیاوړو ګاونډیو پر وړاندې له (متناسبو) حقابو څخه به دفاع وکړي. د دې حقیقت په پام کې نیولو سره چې افغانستان د سیمې د نورو هیوادونو په پرتله لږ پرمختللی دی او ضعیف اقتصادي او نظامي دریځ لري، نو هیواد باید له هر ډول شخړو او جدي کړکیچونو څخه ځان وساتي او پر ځای یې قانوني ځواک او نړیوالې محکمې باید د دوی د پولو تیریدونکو اوبو له سرچینو څخه د منصفانه ونډې کارولو لپاره وکاروي.

د دې کنوانسیون مندرج اصول لکه (معقولانه او عادلانه ګټه اخیستنه) او (د پام وړ ضرر نه رسول) د پولې تیریدونکو سیندونو په تړاو د اوبو پر سر پرتو دولتونو اساسي حقونه او دندې ټاکي، چې د دوی د حاکمیت له قلمرو څخه تیرېږي. د معقولانه او منصفانه ګټې اخیستنې اصل د ٦ عواملو په پام کې نیولو سره توصیفېږي، همدا راز د نه ضرر رسونې اصل هم د لازمي اقداماتو تر سره کول دي، چې بل ګډ اوبیزو ګاونډې ته له ضرر رسونې مخنیوی وکړي.

که له یوې خوا د کنوانسیون تصویب پلویان لري او د بېلابېلو دلایلو له مخې یې الحاق توجیه کوي، له بل لوري ځینې جدي اندېښنې هم په دې اړه شته چې افغان مسوولین یې په دې برخه کې دوه زړي کړي دي.

دا تحقیق دا په ډاګه کوي چې د دې کنوانسیون ګټې د اضرارو په نسبت د پام وړ دي او په دې اړه د کارپوهانو تر منځ د بحث راپورته کېدو زمینه مساعده شوې. اړینه ده چې په دې برخه کې لا ډېر تحقیقات او څېړنې وشي، نتایج یې د مسوولو چارواکو او پالیسي جوړوونکو ته په لاس ورکړل شي، څو د هغوی په رڼا کې تصمیم نیوونکي د ملي منافعو په پام کې نیولو سره په دې اړه لازم اقدامات تر سره کړي.

**وړاندیزونه:**

د چارو کارپوهان په ځانګړې توګه د اوبو منابعو مدیریت په برخه کې دې د قلم خاوندان په دې اړه لا ډېر تحقیقات او ارزونې وکړي، څو د دې مسئلې هر اړخ لا ډېر روښانه شي؛

افغانستان کولای شي په دې اړه د نورو ورته وضعیت درلودونکو هېوادونو له تجاربو څخه ګټه واخلي؛

د دې مسئلې اهمیت ته په کتو، اړینه ده چې افغان حکومت لومړیتوب ورکړي؛

د کنوانسیون غړیتوب اخیستلو او یا نه اخیستلو لپاره دې د کارپوهانو تر منځ په دې اړه پراخ بحثونه وشي؛

د افغانستان په ملي ستراتیژۍ او نورو اړوندو اسنادو کې دې د اوبو اهمیت لا روښانه شي؛

د پوله تیریدونکو اوبو په اړه دې ملي ستراتیژي ترتیب او عملي شي ؛

د دې کنوانسیون غړیتوب اغیز دې په هره سیندیزه حوزه کې و ارزول شي.

پای

# د سعودي عربستان- پاکستان اړیکو ترینګلتیا

لیکنه: فریدالله ځاځی

لومړۍ برخه:
کله چې په ۱۹۴۷م کال کې پاکستان له برېټانوي هند څخه د اسلامي نظریې په اساس بېل شو، له اسلامي هېوادونو څخه لومړنی هېواد سعودي عربستان و چې پاکستان یې په رسمیت وپېژانده. د دوستانه اړیکو له لرلو وروسته د ستراتیژیکو اړیکو درلودلو ته سره ورسیدل، چې ګډو ستراتیژیکو اهدافو ته په سیمه او نړۍ کې د رسیدو لپاره سره ډېر نږدې ملګري شول، چې د نړۍ په سیاسي سناریو کې او هم په دوو اړخیزو اړیکو کې سیاسي، اقتصادي، کلتوري، ټولنیزو او مذهبي ګټو په لټه کې وو چې د مشترکو اعتقادي، ارزښتي، ژبنیو او نورو مشترکاتو لپاره یې په ګډه واحدونه رامنځته کړي دي، حتی دومره نږدې اړیکې سره پالي چې محرمو استخباراتي اسنادونو، لاسوندونو او معلوماتو شریک کولو کې سره تفاهم او د توافق تړونونه لري. همدارنګه د سعودي عربستان شاهي سلطنتي پاچا عبدالعزیز السعود په ۱۹۵۴م کال کې پاکستان ته په لومړي ځل سفر کړی و، چې بیا د شاهي کورنۍ مختلفو لوړ رتبه غړو هم ورته سفرونه کړي او د سعودي عربستان شاهي نظام نورو وروستیو پاچاهانو یې هم پاکستان ته په مختلفو وختونو کې سفرونه کړي، چې مهم سفرونه یې په ۱۹۹۷، ۱۹۹۸ او په ۲۰۰۳ م کال کې د سعودي عربستان پاچا عبدالله بن السعود سفرونه وو. کله چې په ۱۹۹۸م کال کې پاکستان د اټومي اسلحې ټېسټ له امله له نړیوالو بندیزونو سره مخ شو ، سعودي عربستان تقریباً تر دوو بېلیون ډالرو پورې مفت تیل ورکړل او هم یې د افغان جهاد ملاتړ لپاره د بېلیونو ډالرو مرسته ورکړه او د افغان طالبانو په رسمیت پېژندنه او ملاتړ کې هم د پاکستان پلوي کوي او هم یې په دې برخه کې هیڅ راز همکاري او مرستې نه دي سپمولې. دا چې نن ورځ د دواړو هېوادونو په سیاسي او ډیپلوماتیکو اړیکو کې ترېنګلتیا راځي، د حیرانتیا وړ خبره ده!


د سیاسي واک ، اقتدار او د حکومتونو بڼې په دواړو هېوادونو کې توپیر لري چې سعودي عربستان شاهي نظام څښتن دی او په دې ورستیو کې ډېر واک او اقتدار د ولیعهد دفاع وزیر محمد بن سلمان په لاس کې دی. سلمان په دې وروستیو کې سیاسي، ټولنیز تحرکات او بدلونونه په سعودي عربستان کې راوستل چې تر دې مخکې یې په سعودي حکومت کې مخینه نه درلوده او پاکستان بیا دوه ډوله حکومت لري چې ملکي او پوځي حکومتونه دي. د ملکي په نسبت پوځي حکومت یې ډېر واک او اقتدار لري او هم سعودي عربستان ته پوځي حکومت د یو ډول واحدونو او فکټورونو له امله مهم دی، چې په همدې دلیل له ملکي حکومت سره هم نږدې اړیکې پالي؛ خو د پاکستان ملکي حکومت بیا په ټاکنو کې له بریالي سیاسي ګوند څخه جوړېږي چې مهم او لوی ګوندونه یې په نړیوال سیاست کې له ځینو محدودو هېوادونو سره نږدې خواخوږي او ملګرتیا پالي چې له دې ګوندونو څخه یو هم مسلم لیک ګوند (ن) دی، چې مشري یې نوازشریف کوي او د نورو ګوندونو په نسبت ډېر سعودي عربستان ته نږدې او مهمې شخصي اړیکې سره پالي. په دواړو هېوادونو کې د سیاستوالو، ټولنیزو رسنیو او سیاست پوهانو ازادي محدوده او یا د ځینو قوانینو په بنسټ قصدي ډول محدود شوې ده، چې عام خلک یې تر ډېره خپلو کورنیو جنجالونو، فوټبال، کرکټ لوبو او نورو علاقې وړ شیانو او مسائلو کې مصروف ساتلي؛ خو سیاسي کشمکشونه په سعودي عربستان کې محدود دي او په پاکستان کې دا ډول کشمکشونه ډېر دي چې د همدې کشمکشونو له امله یې پوځي حکومت واک او اقتدار پیدا کړی او د عامو خلکو ذهنیت لپاره یې مختلف ډوله پروژې په ورلو کې تر ډېره حده بریالی هم دی. فلهذا همدا وجه ده چې بیوروکراسي پکې نشته. حتی ځینې وخت د نړیوالو لخوا په پاکستان باندې په دې مورد هم فشارونه راوړل کیږي چې ډیموکراسي او ملکي حکومت پکې محدود دی، خو پوځي حکومت په پوره احتیاط سره کوښښ کوي چې په عامو خلکو کې د پوځ خلاف احساسات کنټرول وساتي او هم د پوځ په ضد کرکې مخه ونیسي؛ خو کله چې د خلکو ګوند (پیپلز پارټي) مشره بېنظیر بوټو د ۲۰۰۸م کال ټاکنو ته مخکښه کاندیده وه او وروسته له ډېر وخت څخه پاکستان ته راغلې وه، لومړی یې د پوځي اقتدار پرویز مشرف پر ضد اواز پورته کړ او د پوځي حکومت مخالفت یې وکړ او حالات هم داسې ښکارېدل چې نور عام خلک له پوځي اقتدار او واک څخه ستړي شوي دي چې بدلون غوښتونکي وو، چې دغه بدلون یوازې په پیپلز (خلکو ګوند) کې موجود وو او د دې ګوند مشره بېنظیر بوټو د یوې دسیسې له امله منځه یوړل شوه، چې تر اوسه پورې د پوځ متقاعد جنرال پرویز مشرف باندې د بېنظیر بوټو د مرګ په دسیسه کې دخیل بولي او په قصدي ډول همدا ګوند کمزوری هم شو؛ ځکه چې بېنظیرې په رښتیني ډول غوښتل چې که واک ته ورسېږي، د پوځ لوبو ختمولو ته به نور د پای ټکی ږدي، خو پرې نښودل شوه او په دې وروستیو کې د پاکستان صدر اعظم نوازشریف هم په پوځي حکومت کې لاسوهنو ته رامخکې شو، چې د مختلفو دسیسو ښکار او حتی له پاکستان څخه فراري شو.

اوس د سعودي عربستان او پاکستان تر منځ سیاسي اړیکې ترینګلې شوې دي، چې مختلف لاملونه لري. د پاکستان پوځي حکومت په دې هڅه کې دی چې دا اړیکې بېرته عادي، دوستانه او پرمختللې کړي. که چېرته په اوسنیو حالاتو کې سعودي عربستان ته له پاکستان سره نږدې ملګرتیا ارزښت ونه لري، خو برعکس پاکستان ته د سعودي عربستان ملګرتیا ډېر اهمیت لري؛ ځکه چې پاکستان په سختو حالاتو کې خصوصاً اقتصادي ستونزو کې راګیر دی. سعودي عربستان له پاکستان سره له ۱۹۴۷م کال راهیسې سیاسي، بشري، اقتصادي، مالي، پوځي مرستې او همکارۍ لري او همدارنګه په لویو پروژو، د اوبو بندونو او زېربینایي پروژو باندې پانګونې یې د یادولو وړ دي، چې دا ډول مرستې تر اوسني عمران خاني حکومت پورې دوام لري. سعودي عربستان د پاکستان هر ستراتیژیک هدف ته رسیدو کې ملګرتیا کړې ده، چې ښه بېلګه یې په افغانستان او کشمیر کې له اسلام پالو ګوندونو او ګروپونو څخه غیر مستقیم ملاتړ و او هم یې د همدې ګوندونو لپاره مالي او بشري مرستو او همکاریو کولو کې رغنده رول لوبولی او هم پاکستان خپل پوځي ځواک د سعودي عربستان د ستراتیژیکو اهدافو د ګټو لپاره په منځني ختیځ کې استعمال کړی دی او هم یې تقریباً (۶۰۰۰) پوځي ځواک د سعودي عربستان په اختیار کې ورکړی، چې د سعودي عربستان له ګټو څخه دفاع وکړي. یاد ځواک تر اوسه پورې سعودي عربستان کې میشت دی چې په دې پوځي ځواک کې د مختلفو برخو انجنیران او پیلوټان هم شامل دي څو سعودي عربستان ته د خدمت مصدر وګرځي. همدارنګه د ایران او عراق جګړې وخت کې هم پاکستان خپل پوځي ځواک د ریاض ساتلو لپاره سعودي عربستان ته لیږلی و. ځینې وخت پاکستان په نړیوالو سناریو کې سیاسي لوبه د ریاض راضي ساتلو لپاره مخکې وړې ده .

دوام لري...

# کم‌کاره مسوولین او د خلکو اندېښنې؛

## غلاوو او چاودنو پلازمېنه کابل د وېرې او وحشت په ښار بدل کړی



پلازمېنه کابل یو ځل بیا د وېرې او وحشت په ښار بدل شوی دی. سره له دې چې کابل د افغانستان له مهمو ښارونو دی او د حکومتي ادارو یا نړیوالو موسساتو او سفارتونو د موجودیت له امله باید تر ټولو امن وای، خو د نورو لویو ښارونو په پرتله د کابل امنیت ورځ تر بلې خرابېدونکی دی. په وروستیو اونیو کې تر ټولو ډېره مرګ ژوبله د مقناطیسي ماینونو او نورو ترهګریزو بریدونو له امله کابل ښاریانو ته اوړي. د شنبې ورځ په کابل ښار کې په دریو چاودنو پیل شوه، چې په هغه کې مرګ ژوبله هم واوښته. د بریدونو مسوولیت کومې ډلې نه دی منلی، خو حکومت یې د طالبانو کار بولي. په دې وروستیو کې په کابل ښار کې د مقناطیسي ماینونو کارونه ډېره شوې ده چې له امله یې ملکي او نظامي تلفات ډېر شوي دي. همدا تېره اونۍ په کابل ښار کې څو ځایه د مقناطیسي ماین چاودنه وشوه، چې له دې ډلې په یوه کې یې د پوهنتون استاد، څېړونکی او د سولې فعال عبدالباقي امین ووژل شو. له هغې را دېخوا پرون د کابل ښاریانو ورځ هم په چاودنو پیل شوه. د کابل ښار په بېلو سیمو کې درې پر له پسې چاودنې وشوې. له دې ورهاخوا تر ټولو بده یې لا دا چې د خپلواکۍ ورځې د نمانځې پر مهال پر کابل ښار څو راکیټي بریدونه شول چې ویل کېږي یو یې ان په ارګ کې د تشریفاتو ریاست اړوند سیمه کې لګېدلی دی.

د پرونیو چاودنو له امله په کابل ښار کې یو کس وژل شوی او څلور نور ټپیان دي. د امنیتي چارواکو په وینا، دا چاودنې د کابل ښار په اوومه، پنځلسمه او پنځمه امنیتي حوزو کې شوې دي. لومړۍ چاودنه سهار مهال ۶:۳۰ دقیقې د اوومې امنیتي حوزې اړوند چهلستون سیمه کې پر یو کرولا موټر شوې ده. د کابل د امنیه قوماندانۍ ویاند فردوس فرامرز وایي، په دغه چاودنه کې یو تن وژل شوی او د یو ملکي وګړي په ګډون دوه تنه نور ټپیان دي. دویمه چاودنه هم سهار ۷:۲۰ دقیقې د پنځلسمې امنیتي حوزې اړوند د شهید څلور لارې په سیمه کې پر یو رینجر ډوله موټر شوې ده. د فردوس فرامرز په وینا، په دغه چاودنه کې دوه تنه ټپیان شوي دي. د کابل د امنیه قوماندانۍ ویاند همدارنګه وایي، چې نن سهار د کابل ښار په پنځمه امنیتي حوزه کې هم چاودنه شوې، خو وایي مرګ ژوبله نه لري.

بلخوا د کورنیو چارو وزارت ویاند بیا وایي چې وسله وال طالبانو د رواني فشار د راوستلو او وېرې خپرولو لپاره په دغه ډول بریدونو لاس پورې کړی دی. د دغه وزارت ویاند طارق آرین مسیر ورځپاڼې ته وویل چې دوی د امنیتي ځواکونو او کشفي ارګانونو په مرسته هڅه کوي، چې د دغو بریدونو مخه ونیسي، خو طالبان د رواني فشار د راوستلو په موخه له دې تاکتیک استفاده کوي. آرین وایي: ((په وروستیو اونیو کې طالبانو د مقناطیسي ماینونو د چاودنې په واسطه د رواني فشار څپه راوستې ده او موږ هڅه کوو د دوی مخه ونیسو او په دې اړه پلټنې پیل شوې دي)).

آرین دغه راز وایي چې په تېره یوه میاشت کې د کورنیو چارو وزارت منسوبینو ۳۲ مقناطیسي ماینونه کشف کړي او په خبره یې، په دې اړه یوولس کسه نیول شوي هم دي. هغه زیاتوي: ((موږ په تېره یوه میاشت کې ۳۲ مقناطیسي ماینونه کشف کړي دي، همدا راز په دې تور مو ۱۱ کسه نیولي هم دي، هڅه کوو د دغو شبکو نور غړي او همکاران هم ونیسو)).

یوازې مقناطیسي ماینونه نه دي چې د کابل ښاریانو ژوند یې تریخ کړی دی. وسله والې غلاوې او جنایي جرمونه نور هغه څه دي چې په کابل ښار کې یې ژوند بې خونده کړی دی. د کابل ښاریانو پر ټولنیزو رسنیو د (کابل امن نه دی) په نوم مبارزه پیل کړې ده او دوی له حکومتي چارواکو شکایت کوي چې د دغه ښار د امنیت په تامین کې پاتې راغلي دي. سره له دې چې ولسمشر په کابل کې د امنیت د تامین ډاډ ورکړی دی او له امنیتي حوزو لیدنه کوي؛ خو کابل ښاریان وایي چې حکومتي چارواکي د امنیت په تامین کې پاتې راغلي دي او کابل ښار د نا امنیو پر مرکز بدل شوی دی. د کابل ښار په شاوخوا سیمو لکه شکردره، ارغندی، پغمان او نورو سیمو کې وسله والو فعالیتونه پیل کړي دي او وخت ناوخت پر امنیتي ځواکونو بریدونه کوي. سره له دې هم حکومت ځان بریالی بولي او په خبره یې، د ګڼو پېښو په خنثی کولو بریالی شوی دی.

# د کرونا چټکه پراختیا او خبرداری؛

## د روغتیا نړیوال سازمان: کرونا ویروس ښایي تر دوو کلونو پورې کنټرول شي

په داسې حال چې کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی، د روغتیا نړیوال سازمان ویلي چې دغه وبا ښایي تر دوو کلونو پورې کنټرول شي.

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۳ میلیونو او ۱۴۹ زرو او ۵۴۰ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۸۰۳ زره او ۸۰۳ تنه مړه شوي او نږدې ۱۶ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا د ډېرو قربانیانو او مثبتو پېښو له کبله د نړۍ تر ټول مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس ټولې پنځه میلیونه او ۷۹۸ زره او ۹۸۳ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۱۷۹ زره او ۲۴۰ امریکایان ترې مړه شوي دي.

تر امریکا وروسته برازیل د درې میلیونه او ۵۳۶زره او ۴۸۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د دوه میلیونه او ۹۷۹ زره او ۵۶۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د ۹۵۱ زره او ۸۹۷ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او جنوبي افریقا د ۶۰۳ زره او ۳۳۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم مخکښ هېواد دی چې د یاد ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز پېرو، مکسیکو، کولمبیا، هسپانیا او چیلي په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته وخت کې په امریکا کې د کرونا مثبتې پېښې په کمېدو دي، خو په اروپا کې بیا دغه لړۍ په چټکۍ یره د ودې او پراختیا په حال کې ده. جرمني، فرانسه، هسپانیه او ایټالیا له هغو هېوادونو څخه دي چې له پسرلي راهیسې یې د دې ناروغۍ تر ټولو لوړې شمېرې درلودې.

په همدې حال کې د اروپا په ډېره برخه کې د کرونا د خورېدو د مخنیوي لپاره لګول شوي محدودیتونه بېرته لرې شوي دي.

روغتیایي متخصصین د کووېډ ۱۹ ناروغۍ د شمېر ډېروالی تر ډېره په اوړي کې د هېوادونو ترمنځ د سفرونو ډېروالی بولي او همدې مسئلې وېره رامنځته کړې چې ښایي په منې کې دا ویروس یو وار بیا ډېر شي.

اروپایي مشرانو ویلي چې د ویروس د بیا ډېرېدو په صورت کې به هغسې محدودیتونه ونه لګوي چې اقتصادونو ته یې زیان ورسېږي. دوی وایي چې د دې پرځای به هغو سیمو ته سفرونه محدود کړي چې دا ویروس پکې ډېر دی.

## د کتــاب خبـرې


# د یوویشتمې پیړۍ تجارت

- لیکوال: رابرټ کیوساکي
- ژباړن: علي‌الله متوکل

**دریمه برخه**

**ستاسو راتلونکی اوس پیلیږي!**

**یوویشتم څپرکی**




د تولیداتو د لګښت په کمولو او د معیاري ارزانه موټرونو په جوړولو فورډ په نړۍ کې د موټرونو تر ټولو لوی تولیدونکی شو. یوازې یې موټرونه ارزانه نه وو، بلکې و کارګرو ته یې تر ټولو لوړه تنخوا ورکوله، کارګرو ته یې له شرکت څخه اضافي ګټې ورکولې او هر کال یې د دویم ځل لپاره دېرش میلیونه ډالره بیا پر هغوی وېشل. دېرش میلیونو ډالرو د تېرې پېړۍ په لومړیو کې تر اوس وخته خورا ډېر ارزښت درلود.

د فورډ موخه «د موټرونو ډیموکراټیک کول» وه او د دې موخې په ترلاسه کولو ډېر بریالی او شتمن شو.

شبکه یي بازارموندنه د تجارت انقلابي او اوښتې بڼه ده. په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره ټولو خلکو ته دا موقع برابره شوې چې په شتمنۍ کې ونډه واخلي. په هغې شتمنۍ کې چې تر اوسه د ځینو محدودو او بختورو خلکو په لاسو کې وه.

پر دې تجارت انتقاد کوونکي او ګوته نیوونکي هم شته. د هر تجارت په څېر په دې تجارت کې هم ځیني نامناسب او ناوړه خلک شته چې غواړي زر او په اسانۍ پیسې وګټي. خو د ماهیت او طرحې له مخې شبکه یي بازارموندنه خورا عادلانه او ډیموکراټیک نظام دی او له ټولنیز پلوه د شتمنۍ جوړولو مسئولانه نظام دی.

انتقاد کوونکي که هرڅه درته ووایي؛ خو شبکه یي بازارموندنه د وړو او تمه کوونکو خلکو لپاره نه ده. اصلاً که غواړئ په شبکه یي بازارموندنه کې شتمن شئ، نو د شتمنېدو یوازینۍ لاره مو له نورو سره په شتمنېدو کې مرسته کول دي. د جوړښت له مخې شبکه یي بازارموندنه د هغو خلکو لپاره غوره تجارت دی چې غواړي له نورو سره مرسته وکړي، کټ مټ لکه د توماس اډیسن او هنري فورډ انقلابي جوړښت. هغوی په خپل تجارت کې له نورو خلکو سره مرسته کوله.

زه تمه بده نه ګڼم. لږه تمه او ځان خوښونه تل ښه وي. خو کله چې ځاني ګټه تر اندازې واوړي او خلک یې د نورو خلکو د له منځه وړلو په بیه خپلول غواړي، نو بیا بیخي بده ده. زما په اند ځیني خلک بیا ذاتاً سخاوتمن دي. او زموږ لاسته را وړنې او رضایت مرسته را سره کوي چې د نورو خلکو د را پرځولو پر ځای له هغوی سره مرسته وکړو.

په شبکه یي بازارموندنه کې د سخاوت احساس ته ارزښت ورکول شوی. د ځاني پرمختګ، د شتمنۍ پیدا کولو او د اقتصادي ازادۍ د پنځولو یوازینۍ لاره د تجارت له ملګرو سره بریالۍ مرسته ده.

په سپکېدو، وړیتوب او تمه شتمنېدای شې. په سخاوت او ښېښې هم شتمنېدای شې. په دغو دوو لارو کې چې کومه لاره انتخابوې، ستا له داخلي ارزښتونو سره به خورا ډېره ورته وي. یاني ته چې په باطن کې څه ډول یې، هغسې لاره به انتخاب کړې.

### د سولې لپاره اقتصادي بنسټ

ما د ویتنام پر ځنګلونو الوتکې ګرځولې دي. دا چې جنګ څه شی دی، زه یې ښه تجربه لرم. په دې هم پوهېږم چې د جنګ یو لوی لامل بې عدالتي ده. څومره چې د شتمن او نېستمن ترمنځ فاصله زیاته وي، هومره به د سولې امکانات کم وي. موږ کولای شو د سولې لپاره لاریونونه وکړو، ویناوې وکړو، د سولې په اړه د مطالعې لپاره کمېټې جوړې کړو او سولې ته پرمختګ ور کړو؛ خو سوله په دې نه راځي. سوله میلیونونو انسانانو ته د اقتصادي فرصتونو په برابرولو را تلای شي.

میلیونونو انسانانو ته اقتصادي فرصتونه که هر څومره لویه موخه هم وي، د شبکه یي بازارموندنې په مرسته دا کار هرو مرو کېدای شي.

اوس د شبکه یي بازارموندنې زیات شرکتونه د اقتصادي فرصتونو په برابرولو په ټوله نړۍ کې سوله خپروي. د شبکه یي بازارموندنې شرکتونه یوازې په لویو پلازمېنو کې پرمختګ نه دی کړی، بلکې زیاتره یې په هغو هېوادونو کې دي چې د پرمختګ په حال کې دي او د میلیونونو خلکو د اقتصادي هیلو د پوره کولو لپاره په بېوزلو هېوادونو کې پرانیستل شوې دي. له بله اړخه، پخوانیو کمپنیو یوازې په هغو ځایونو کې کار کاوه چې شتمن خلک به اوسېدل.

هغه وخت را رسېدلی چې د ټولې نړۍ خلک یو ډول پرمختګ وکړي او یو ډول او شتمن شي. دا هغه وخت نه دی چې خلکو به سخت کار کاوه، شتمن به یې نور هم شتمن کاوه او خپله به نېستمن پاتې کېدل.


اوس هغه وخت دی چې باید ته هم له دې فرصته ګټه واخلې.

یوویشتمې پېړۍ ته ښه راغلاست!

**پــای**

# الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو خصوصي موسسې خپلې رسمي چارې په ۱۳۹۰ کال کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ د دوو پوهنځیو (شرعیات او حقوقو) په درلودلو سره په هرات ولایت کې پیل کړې دي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې علمي مرستیال خان محمد فرامل وایي، اوس هم همدا دوه پوهنځي لري. دی وایي، حقوقو پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي) او شرعیاتو پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه (اسلامي تعلیمات او فقه او قانون) لري، چې له هماغه لومړي سره بیا تر اوسه پورې محصلین پکې پر زده کړو بوخت دي.

په الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو موسسه کې اوسمهال د ۱۴۰۰ په شاوخوا کې محصلین لوړې زده کړې کوي، چې تر ثلوېښت سلنه ډېرې یې نجونې دي. دی وایي، دا چې د هرات خلک فرهنګي او دیني مسایلو ته ډېر ارزښت ورکوي، نو دوی د ښځینه او نارینه محصلینو لپاره د زده کړو بېل بېل ځایونه برابر کړي، چې همدې ټکي ته په کتو یې د ښځینه محصلینو شمېر د نورو پوهنتونونو په پر تله ډېر دی او ډېرې ښځینه محصلینې زړه ښه کوي چې په الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو موسسه کې نوملیکنه وکړي. ښاغلی خان محمد وایي، دوی په کلني ډول د شپږ سوه په شاوخوا کې محصلین د لېسانس په کچه فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کوي.

د الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، چې په کلني ډول یې جذب هر کال توپیر کوي. دی وایي، داسې کلونه هم راغلي چې دوی تر ۱۲۰۰ پورې محصلین جذب کړي دي، خو دغه څه تر ډېره په هېواد کې په امنیتي او اقتصادي وضعیت پورې تړلي وي. دی وایي، تېر کال یې د شپږ سوه په شاوخوا کې نوي محصلین جذب کړي وو. د لوړو زده کړو دغه موسسه د محصلینو لپاره په ډېره لوړه کچه تخفیف ورکوي، داسې چې د خان محمد په خبره تر اوسه پورې به په بل خصوصي پوهنتون کې په دې کچه تخفیف نه وي ورکړل شوی. هغه وایي، ان شپږ زره افغانۍ یې هم په سمیسټر کې له محصلینو اخیستې دي. د خان محمد په خبره، دوی د بې وزله، شهیدانو او معلولینو د ورثه‌وو لپاره هم ځانګړی تخفیف لري. دی وایي، په هر سمیسټر کې ډېر محصلین له دوی سره په وړیا ډول زده کړې کوي.

د لوړو زده کړو دې موسسې د خپلو محصلینو او استادانو لپاره یو مجهز کتابتون برابر کړی، چې د لس زره په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه یې پکې ځای پر ځای کړي دي. د دې موسسې د علمي چارو مرستیال وایي، د پوهنځیو اړوند تخصوصي او نور بېلابېل کتابونه، لکه: دیني، سیاسي، اقتصادي، تاریخي، فرهنګي او نور یې د محصلینو او استادانو د اړتیا پوره کولو لپاره په کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي. نوموړی وایي چې محصلین او استادان یې کولای شي وخت ناوخت له دې کتابتون څخه ګټه واخلي، مطالعه یې کړي او د څېړنیزو مسایلو لپاره ترې ګټه واخلي. دی وایي، محصلین، استادان او د هرات ولایت د نورو پوهنتونونو محصلین او نور کسان چې له مطالعې سره مینه لري، کولای شي د دوی له کتابتون څه په امانت ډول کتابونه یوسي او له مطالعې وروسته یې بېرته دوی ته وسپاري. خان محمد وایي، کمپیوټر لب هم لري چې محصلین کولای شي د کمپیوټر د زده کړې تر څنګ له انټرنېټ څخه هم ګټه واخلي.

په الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د متخصصو او تجربه لرونکو استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي. ښاغلی خان محمد وایي چې هر ډیپارټمنټ یې پنځلس تر شل پورې استادان لري، چې ثلوېښت سلنه یې تر دوکتورا او پاتې نور یې بیا د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. دی وایي، د شلو په شاوخوا کې استادان یې په کور د ننه او بهر کې د دکتورا او ماسټرۍ پر اخیستو بوخت دي، چې ډېری یې د دوی لخوا استول شوي دي. نوموړی وایي، هڅه یې دا ده چې ټول استادان یې د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې ولري او د لوړو زده کړو وزارت معیارونه چې ورته ټاکل شوي دي، پوره کړي.

ښاغلی خان محمد وایي، په کور د ننه له ټولو پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري. هغه زیاتوي، په هرات ولایت کې د خصوصي پوهنتونونو د اتحادیې غړیتوب لري، چې وخت ناوخت خصوصي پوهنتونونه د دې اتحادیې له لارې خپلې ستونزې او تجربې شریکوي او ځینې وخت په انلاین ډول پر ځینو مسایلو خبرې کوي. د دې تر څنګ د ایران، پاکستان او هند له ځینو پوهنتونونو سره که څه هم چې د علمي اړیکو کومه هوکړه نه لري، خو نیکې اړیکې ور سره لري او له تجربو یې ګټه اخلي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې اداره وایي، کوم محصلین چې له دې موسسې څخه فارغېږي، د خپل ځانګړي فارمټ درلودونکي تحصلي سندونه ورکوي، چې بیا وروسته د لوړو زده کړو وزارت لخوا تاییدېږي او محصلین کولای شي په دې تحصیلي سندونو باندې د هېواد په د ننه او له هېواده بهر ور باندې نورې لوړې زده کړې وکړي او یا هم د دندې په پیدا کولو کې ترې ګټه واخلي، خو هغه ډیپلومونه چې د هېواد د لوړو زده کړو وزارت لخوا محصلینو ته ور کول کېږي، تر اوسه پورې د دوی موسسې ته نه دي ورکړل شوي.

کتابتون، کمپیوټر لب، حقوقي کلینیک او د ظرفیت لوړولو ورکشاپونه د الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو مسسې له امکاناتو څخه دي. د دې تر څنګ د دې موسسې اداره د هرات ولایت له محاکمو سره ځینې هوکړې لري، څو د حقوقو پوهنځي محصلین د عملي زده کړو لپاره ور ولېږي. د لوړو زده کړو دغه موسسه د نګین الغیاث په نوم ټلوېزیون هم لري، چې د محصلینو او استادانو لپاره بېلابېلې دینې، فرهنګي، حقوقي، اقتصادي او سپورټي خپرونې لري چې محصلین او استادان پکې په عملي ډول برخه اخلي.

د نویو پوهنځیو ایجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د یوه لوی څېړنیز مرکز جوړول، له هېواده بهر د محصلینو او استادانو لپاره د نورو لوړو زده کړو زمینه برابرول، د انلاین زده کړو زمینه برابرول او د هرات ښار په زړه کې د پوهنتون لپاره یوه لویه ودانۍ جوړول چې د بېلابېلو برخو څېړنیز مرکزونه به پکې فعالیت کوي، د الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو موسسې د اداري راتلونکي پلانونه دي.

د الغیاث اسلامي د لوړو زده کړو موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې له خصوصي پوهنتونونو سره په هر اړخیزه توګه مرسته وکړي او د هېواد ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته په یوه سترګه وګوري. ښاغلی خان محمد وایي، لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو لپاره ډېر کله داسې قوانین وضع کوي، چې د لوړو زده کړو په برخه کې له پانګونې د خلکو زړه ور توروي. دی وایي، که خصوصي پوهنتونونه د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي، نو بیا دې په هر اړخیزه توګه ور سره مرسته وکړي، څو دغه پوهنتونونه پر خپلو پښو ودرېږي. نوموړی وایي، په ځینو موارد کې لوړو زده کړو وزارت د دې پر ځای چې د خصوصي پوهنتونونو ملاتړ وکړي، ستونزې ورته جوړوي او یا کارونه ورته دومره سختوي چې د پرمختګ مخه یې نیسي. خان محمد وایي، که د لوړو زده کړو یوه موسسه د پوهنتون ټول معیارونه پوره هم کړي، نو اداره اړه ده چې ۳۰ میلیونه افغانۍ په بانک کې تحویل کړي او بیا وروسته لوړو زده کړو وزارت اجازه ورکوي چې له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع وکړي. دوی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونو ته هم د دولتي پوهنتونونو په سترګه وګوري او داسې شرایط ورته وضع کړي، چې وکړای شي پوهنتونونه پرمختګ وکړي، په ښه ډول د هېواد بچیان وروزي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي.

همیانی

# پر روغتیا د سګرېټو اغېز

دوکتور نصير احمد شېرزی

د روغتیا نړیوال سازمان د معلوماتو له مخې، په نړۍ کې هرکال نږدې اته میلیونه کسان د تنباکو د کارولو له امله مري.

د دغو مړینو عمده دلیلونه د زړه ناروغۍ، مغزي سکتې، د سږو سرطان او نور ډول ډول سرطاني ناروغۍ بلل شوې.

دغه سازمان وايي چې د اته میلیونه وژل شوو کسانو له ډلې یو میلیون هغه کسان دي چې خپله سګرېټ نه څکوي، خو د سګرېټ د لوګي د تنفس له امله مري.

د ملګرو ملتونو د سازمان په خبره، دغه توکي لا تر اوسه هم په نړۍ کې د وژونکو ناروغیو عمده لامل دي. د روغتیا نړیوال سازمان د تازه خپاره شوي راپور له مخې، په نړۍ کې هر کال درې میلیونه کسان د دغو توکو د استعمال له امله له خپل ټاکلي عمر وړاندې مري چې د مړینې لامل یې ډېری د زړه ناروغۍ دي. څېړنې ښیي چې د سګرېټو څکول د زړه ناروغۍ درې برابره زیاتوي چې له دې امله تنباکو او نور دود لرونکي نشه‌یي توکي روغتیا ته پر زیان سربېره، چاپېریال ته هم زیان رسوي. تنباکو په نړۍ کې په هرو شپږو ثانیو کې یو نفر وژني او د زړه حملې زیاتوي.

## د انسان پر غړو د سګرېټو شپږ منفي اغېزې



### ۱ـ د مرکزي اعصابو سیستم

په تنباکو کې یو ډول موجود مواد د نیکوټین په نامه یادېږي. نیکوټین د اخلاقو او چلند د بدلون لامل کېږي. بدن ته له داخلېدو سره سم څو ثانیې وروسته ځان مغز ته رسوي او په انسان کې د انرژۍ د تولید لامل کېږي. خو کله چې د دغو موادو اغېز له منځه ځي، انسان ته د سستۍ، افسرده‌ګۍ، بې‌خوبۍ او د سردردۍ احساس پیدا کېږي، چې د لا ډېر مصرف اړتیا رامنځته کېږي. همدارنګه پر نیکوټینو انسان په داسې ډول روږدی کېږي چې پرېښودل یې ډېر سخت کار دی.

### ۲ـ تنفسي سیستم

کله چې دود بدن ته ننوزي، له ځان سره بېلابېل داسې مواد لېږدوي چې سږو ته تاوان لري.

آمفیزم: دغه مواد د سږو پارانشیمونه له منځه وړي.

مزمن برانشیټ: دا د سږو دایمي التهاب دی چې د سږو د تنفسي سیستم پر داخلي برخه اغېز کوي.

### ۳ـ د زړه او رګونو سیستم

سګرېټ څکول د زړه او رګونو پر ټول سیستم اغېز کوي. نیکوټین د رګونو د بندېدو یا تنګېدو لامل کېږي چې د وینې فشار لوړوي او همدارنګه د رګونو دغه بندېدل د وینې د پرنډ یا لخته کېدو لامل کېږي، چې په پایله کې د مغز او زړه د سکتې لامل هم کېدای شي او د سږو د رګونو د پړسېدو یا بندېدو لامل هم کېږي.

### ۴ـ جلدي سیستم

د سګرېټ څکول د جلدي یا پوستي بدلونو لامل کېږي. په تنباکو کې موجود مواد د پوست او جلد د جوړښت د بدلون لامل کېږي. د جلدي سرطان رامنځته کېدل، د وېښتانو توېېدل او سپینېدل هم د سګرېټو له زیانونو دي.

### ۵ـ د هاضمې سیستم

سګرېټ د خولې، ستونې او مرۍ د سرطاني کېدو تر ټولو لوی لامل دي. همدارنګه سګرېټ د معدې او کلمو د سرطاني کېدو لامل هم کېدای شي. سګرېټ د بدن پر انسولینو هم ناوړه اغېز کوي چې د انسولیني مقاومت لامل کېږي. هغه کسان چې سګرېټ څکوي، د شکر ناروغۍ پر دویم ډول د اخته کېدو له خطر سره مخ دي.

### ٦ـ تناسلي او جنسي سیستم

نیکوټین د نارینه او ښځینه‌وو تناسلي آلاتو ته د وینې جریان کموي چې په نارینه‌وو کې د وینې دغه کم‌والی د جنسي فعالیت د کمزورۍ کېدو او په ښځو کې د جنسي خوند د کمېدو لامل کېږي. ځکه نو په جنسي فعالیت کې د ګډوډۍ لامل کېږي.

## وانګ يي: سیمه‌ییز هېوادونه او نړیواله ټولنه دې د افغان سولې په پروسه کې رښتینې همکاري وکړي



د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي ویلي چې سیمه‌ییز هېوادونه او نړیواله ټولنه دې د افغان سولې په پروسه کې رښتینې همکاري وکړي.

نوموړي د چین په های نان ولایت کې له خپل پاکستاني سیال سره له خبرو وروسته خبریالانو ته د بین الافغاني مذاکراتو په اړه د چین پنځه ماده‌ییز وړاندیز کړی دی چې په خبره یې، د دغه وړاندیز په پلي کېدو یاد هېواد دایمې سولې او ټیکاو ته رسېدلی شي.

د دغه وړاندیز په لومړۍ ماده کې راغلي چې بین الافغاني مذاکرات دې د افغانستان مسئلې پر سیاسي حل ټینګار وکړي، د افغانستان مسئلې د حل یوازینۍ لار ډیالوګ او خبرې اترې دي، د یادو مذاکراتو مختلفې خواوې یو له بل سره وروڼه دي چې باید له زماني بهیر او د خلکو له هیلې سره سم خپلمنځي توپیرونه او ستونزې لرې کړي او رښتینی روغه جوړه دې وکړي. د سرچینې په خبره، چین هیله لري چې د افغانستان بېلابېلې سیاسي ډلې پر دغو مذاکراتو ټینګ باور ولري، خپل صبر دې وساتي، خپل صمیمیت دې وښیي او د بریالیتوب ټینګ هوډ دې ولري.

د یاد وړاندیز په دویمه ماده کې راغلي، چې بین الافغاني مذاکرات دې د افغانانو تر مشرۍ لاندې وشي، د افغانستان د راتلونکي برخلیک په تړاو د افغانانو له‌خوا پرېکړه کېږي، نو د افغانانو له‌خوا د لارښوونې اصول دې په جدي توګه وساتل شي. هېڅوک دې په افغانستان کې جیوپولیټیک سیالي نه کوي او د افغانستان په مسئله کې دې خپلې ګټې نه لټوي.

دغه د وړاندیز درېیمه ماده زیاتوي، په بین الافغاني مذاکراتو کې دې پر ټول‌شمولیت باندې ټینګار وشي، مختلفې خواوې باید په ګډو هڅو سره داسې یو سیاسي چوکاټ جوړ کړي چې د هېواد بېلابېل سیاسي ګوندونه، قومونه او مذهبي ډلې پکې په مساوي توګه برخه واخلي او له دې لارې دې واکونه شریک کړي.

د دغه وړاندیز په څلورمه ماده کې راغلي، د افغانستان د مسئلې د دایمي حل لپاره دې یوه لار پیدا شي، پر جګړې سربېره افغانستان د بېوزلۍ، کډوالو او نشه یي توکو په شمول له یو لړ ستونزو سره مخ دی چې د مذاکراتو مختلفې خواوې باید خپله هوښیاري وښیي او له دغو ستونزو سره دې ګډه مقابله وکړي.

دغه راز په وروستۍ ماده کې راغلي، چې سیمه‌ییز هېوادونه او نړیواله ټولنه دې د افغانستان مسئلې په اړه خپله مسوولیت ادا کړي، نړیواله ټولنه او د سیمې هېوادونه باید په عدالت او برابرۍ سره د سولې بهیر پرمخ بوزي او د افغانستان سولې بهیر ته دې ستونزې او خنډونه نه جوړوي، بهرني ځواکونه باید په مسوولانه او منظمه توګه له دغه هېواد څخه ووځي.

## پاکستان: د ملا برادر په ګډون مو په یوشمېر وسله والو ډلو بندیزونه لګولي



د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د ملا برادر او حقاني په ګډون یې د وسله والو ډلو پر یو شمېر غړو او مشران یې بندیزونه لګولي دي.

د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزارت له‌خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له غوښتنې سره سم یې د افغان طالبانو او نورو وسله والو ډلو پر خلاف یې د سفر بندیزونه، د شتمنیو کنګل کول او د وسلو پېرلو بندیزونه لګولي دي.

په دغه راپور کې ویل شوي چې په وسله والو ډلو او افرادو د سفري بندیزونو، د شتمنیو کنګل کولو او د وسلې د بندیز په لړ کې د ۲۰۱۵ ز کال د ملګرو ملتونو امنیت شورا مصوبه یې په بشپړه توګه عملي کړې ده. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند زاهد چودري په اسلام اباد کې خبریالانو ته ویلي چې هېواد یې دغه ګامونه پخوا اعلان کړي دي.

د پاکستان له‌خوا دغه اقدامات او معلومات په داسې حال کې خپاره شوي چې ټاکل شوې راتلونکې میاشت د نړیوال مالي کاري قوې (ای اېف ټي اېف) له‌خوا د پاکستان په اړه پرېکړه کېږي چې دغه هېواد په تور لېست کې شي او یا په خړ لېست کې پاتې شي.

یاده نړیوال اداره هغه هېوادونه په دغو لیستونو کې اچوي چې له ترهګرو او وسله والو ډلو سره مالي مرستې کوي. پاکستان دا مهال د نوموړې په خړ لېست کې دی او که دوی د وسله والو ډلو د مالي سرچینو پر ضد اقدامات ونه کړل، نو په تور لېست کې به شامل شي، خو د پاکستان حکومت بیا ویلي چې دوی د یادې نړیوالې ادارې پر ۲۷ سپارښتونو عمل کړی دی.

د یادونې ده چې پاکستان بیا بیا د افغان حکومت او نورو هېوادونو په ګډون د یو شمېر نړیوالو ادارو او بنسټونو له‌خوا د ترهګرو په ملاتړ تورن شوی، خو یاد بیا دغه ادعاوې نه مني.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۸۸,۵۰ |
| Rp. | ٤٥٣ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

مسوول مدیر: اسدالله وحیدي

مرستیال: شفیق امیرزی

اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي

خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

ګرافیک او ډیزاین: ارمان

چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د وري دویمه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۲۳مه | ۵۸۴یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۳٦ | ۳۷ | ۳۷ | ۳۲ |
| ۲۲ | ۲۱ | ۲۰ | ۱۹ | ۲۲ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۰ | لمر ختل ۰۵:۱٦ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:۴۰ | ماښام ۰٦:۳۹ | ماخوستن ۰۸:۱۰

## نړۍ



د کرونا چټکه پراختیا او خبرداری؛

د روغتیا نړیوال سازمان: کرونا ویروس ښايي تر دوو کلونو پورې کنټرول شي

۳

## الموسوي: که امریکايي سرتېري له عراق څخه ونه وځي، پر وړاندې به يې وسله وال مقاومت وکړو

د عراقي پارلمان او د دغه هېواد د الفتح ائتلاف غړي مختار الموسوي د ياد هېواد پر لومړي وزير مصطفی کاظمي د نيوکو تر څنګ ويلي چې هېواد يې له امريکا سره له وسلهوال مقاومت پرته بله چاره نه لري.

هغه زياته کړې چې کاظمي له دغه هېواد څخه له امريکايي سرتېرو پرته د نورو سرتېرو پر وتو ټينګار سره وشوده چې نوموړی په دې توګه ځان له مسووليت خلاصوي او خپله اوږه سپکوي چې دا چاره دوی ته د منلو نه ده. نوموړي زياته کړې، عراقي پارلمان په وار وار ويلي چې ټول بهرني سرتېري بايد له دغه هېواده ووځي، خو تر اوسه په دې برخه کې عملي ګامونه نه دي اخيستل شوي. هغه ټينګار کړی دی چې امريکايي او د نورو هېوادونو سرتېري بايد ژر تر ژره له عراق پېښې سپکې کړي، ګنې دوی به يې وسلهوال مقاومت ته راووځي. دا په داسې حال کې ده چې د عراق پارلمان تېر کال پرېکړه وکړه چې ټول بهرني سرتېري دې په بېړه له دغه هېواده ووځي، خو له دغې پرېکړه سره سره، لاهم زرګونه امريکايي او بهرني پوځيان په دغه هېواد کې مېشت دي.

## اروپايي ټولنه: له ايران سره د لانجمن اټومي تړون په تړاو راتلونکې اونۍ په ويانا کې غونډه کېږي



اروپايي ټولنه وايي، چې د ايران د اټومي تړون په تړاو ټاکل شوی ګډ کمېسيون به د سپټمبر پر لومړۍ په ويانا کې جرګه شي. اروپايي ټولنه وايي، چې په دې غونډه کې به د برېټانيا، چين، فرانسې، جرمني، روسيې او ايران استازي ګډون کوي. دا په داسې حال کې ده چې د امريکا د متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو تېره پنجشنبه د هغه ميکانېزم پروسه رسماً پرانيستله چې موخه يې پر ايران د ملګرو ملتونو د بنديزونو بيا لګول دي. امريکايي چارواکو، ايران په ۲۰۱۵ ز کال کې له لاسليک شوي اټومي تړون څخه په سرغړونې تورن کړی، خو ايران دا تورونه نه مني.
د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پومپيو د پنجشنبې په ورځ د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته يو ليک لېږلی چې په هغه کې د امريکايي چارواکو په خبره، له اټومي تړون څخه د ايران د سرغړونو بېلګې يادې شوې دي.
واشنګټن له دغه تړون څخه چې له مخې يې ايران د نړيوالو بنديزونو د کمېدو په بدل کې خپل اټومي فعاليتونه محدود کړي وو، په ۲۰۱۸ ز کال کې ووت.
خو د واشنګټن وروستۍ هڅه ځکه لانجمنه شوه، چې فرانسې، جرمني او برېټانيا وويل چې دوی د امريکا د وروستي اقدام ملاتړ نه شي کولای. د دغو هېوادونو په وينا، دا اقدام د ايران د اټومي تړون د ملاتړ له هڅو سره اړخ نه لګوي.

## معترضین بادغیسی:

## اگر به خواست های مردم توجه نشود، تمامی ادارات دولتی را بسته می کنیم




همزمان با تظاهرات صدها تن از باشندگان بادغیس در شهر قلعه نو مرکز این ولایت، شماری از باشندگان این ولایت مقیم در هرات نیز در برابر دفتر والی هرات، خیمۀ تحصن برپا کردند و از حکومت خواستند که والی باید از آن ولایت تعیین گردد. این باشندگان بادغیس، هدف از برپایی خیمۀ تحصن شان را داد خواهی به خاطرتامین حقوق باشندگان این ولایت از حکومت مرکزی میدانند . آنان با انتقاد از فراموشی بادغیس ازسوی حکومت مرکزی می گویند که حکومت درچند سال گذشته از کدرهای متخصص و جوانان این ولایت دربست های بلند حکومتی و حتی به عنوان والی و معاون والی انتخاب نکرده است. همزمان با این، صدها تن ازباشندگان و نمایندگان بادغیس درمجلس شورای ملی درمقابل مقام ولایت بادغیس دست به تظاهرات اعتراضی زدند. این باشندگان با سردادن شعار که حق خود را ازحکومت میخواهند، دروازۀ مقام ولایت بادغیس را بسته کردند. عبدالبصیرعثمانی عضو ولسی جرگه دراین تظاهرات هشدار داد وگفت: «مردم بادغیس درطی یک اعتراض قانونی و مدنی خواسته های خود را به حکومت مرکزی مطرح کردند و درضمن قطعنامۀ پنج مادۀ را صادر کردند که در آن خواسته های مردم و هم هشداری برای حکومت مطرح شده است که اگر به خواسته های مردم تمکین نشود وقناعت شان حاصل نشود، مردم به این اعتراض خود ادامه میدهند وتمام ادارات دولتی را بسته نموده و شاهراه هرات-بادغیس را مسدود خواهند کرد.» در عین حال نجم الدین برهانی سخنگوی مقام ولایت بادغیس گفته است که مردم بخاطر برآورده ساختن خواسته های شان دروازۀ مقام ولایت را بسته اند.

## ژوند

## د عوایدو لوړولو ته مو لومړیتوب ورکړئ



کله چې تاسو د يوې اونۍ لپاره کاري پروګرام جوړوی، هڅه وکړئ هغه څه ته لومړيتوب ورکړئ، چې کولی شي ستاسو د عوايدو کچه لوړه کړي. کومې کړنې په ورځني ډول ستاسو عوايد زياتولی شي؟ که کوم ښه کار په لاس درغلی وي، مه پرېږدئ چې کوم څه مو د دې کار خنډ شي. وخت د طلا په څېر او له پيسو يې هم ارزښت زيات دی. کېدای شي له لاسه وتلې پيسې بېرته لاسته راوړی، خو په هېڅ قېمت له لاسه وتلی وخت نه شی اخيستلی. نو د وخت ارزښت ته په کمه سترګه مه ګورئ. له خوبه سهار وختي پورته شئ او د ورځنيو کارونو لپاره مو دقيق مهالوېش جوړ کړئ. که مو کاري مهالوېش دقيق جوړ کړی وي، کېدای شي له نورو څو ګامه مخکې اوسی او په يوه شپه او ورځ کې تر نورو ډېر کارونه تر سره کړی.

## شیاومي نوی ځیرک موبایل معرفي کړی



سږ کال شياومي کمپنۍ خپل دوه پرمختللي ځانګړنې لرونکي ځيرک موبايلونه، شياومي مي۱۰ او مي۱۰ پرو، معرفي کړل. اوس دې کمپنۍ د خپلې لسمې کليزې په وياړ د مي۱۰ لړۍ يو بل ځيرک موبايل، شياومي مي۱۰ الټرا هم معرفي کړی چې حيرانوونکې کامره او د چارج چټک سيستمونه لري. شاومي مي۱۰ پرو کې ۱۰۸ مېګاپکسله وړتيا لرونکې کامره او ۵۰ اېکس هايبرېډ زوم او ۸ کې وېډيو ثبتونې وړتيا ورکړل شوې وه، چې مي۱۰ الټرا کې نور هم غوره شوې ده. مي۱۰ الټرا کې د ۱۰۸ پر ځای ۴۸ مېګاپکسله اصلي کامره ورکړل شوې، خو تر ټولو مهمه دا ده چې ۴۸ مېګاپکسله ټېلې فوټو کامره ده چې ۱۰ اېکس اپټېکل زوم، ۱۲۰ اېکس هايبرېډ زوم او ۸کې وېډيو ثبتونې څخه ملاتړ کوي. له دې سربېره، ۲۰ مېګاپکسله الټرا وايډ انګل کمره او ۱۲ مېګاپکسله پورټرېټ کامره هم پکې کارول شوې ده. دغه ځيرک موبال ٦,٦۷ انچه ايف اېچ ډي پلس اولېډ ډوله قات شوې مخپاڼه لري چې ۱۲۰ هرتز ريفرش رېټ څخه ملاتړ کوي. د ګوتې نښې سېنسر د مخپاڼې لاندې او ۲۰ مېګاپکسله سېلفي کامره پنچ هول ډيزاين سره د مخپاڼې پاسنۍ برخه کې ورکړل شوې ده.

د خپلو هیلو پوره کولو لپاره نغدو پیسو ته اړتیا لرئ !!!!!!!
د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرایطو سره ترلاسه کړئ
• د پور آسانتیا په افغانیو او امریکایي ډالرو کې شتون لري
• لندمهاله پور د 12 میاشتو سره
• آسان سند جوړونه
• د دولتي، غیر دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري
دلازیاتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې یا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه لیدنه وکړئ او یاهم ز مونږ 24 ساعته شمیرې1515 سره اړیکه ټینګه کړئ
عزیزی بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515

